صداهای زنان برای صلح همه‌شمول و پایدار
د ټول‌شموله او تلپاتې سولې لپاره د ښځو غږونه
Women's Voices for an Inclusive and Sustainable Peace

د ښځو د سولې لنډیز

پر ښځو او د هغوی په ټولنو د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون اغیزې

۲۰۲۴ کال دسمبر میاشت - ۲۰۲۵ کال فبروري میاشت

لنډیز:

- د افغانستان له ۳۲ ولایتونو څخه له ټولټال ۷۲۲۳ ښځو سره د امر بالمعروف د قانون د عملي کولو او پر ښځو، انجونو او د هغوی په ټولنو د اغېزو د ارزونې په موخه ټولپوښتنه ترسره شوه.
- ډیرې ځواب ویونکو د دې قانون له خپریدو راهیسې په خپلو ټولنو کې د چلند منفي بدلونونو په اړه راپور ورکړ چې(۵۵.۵۹٪)ځواب ویونکو د منفي اغیزو او(۲۸.۸۳٪)ځواب ویونکو د مثبت بدلون په اړه نظر شریک کړی
- د قانون د تطبیق له املې د ژوند تر ټولو زیاتې اغېزمنې برخې د ښځو د کار موندلو وړتیا (۳۲.۴۷٪)، غیر رسمي زده کړو ته لاسرسي (۲۴.۴۹٪)، عامه ځایونو ته لاسرسي (۱۸.۴۴٪)، او روغتیایی خدماتو ته لاسرسي (۸٪) په ګوته شوې .
- کله چې وپوښتل شول چې ښځو څنګه د دې قانون له محتصبینو سره له مخامخ کېدلو څخه د مخنیوي لپاره خپل ورځنۍ معمول بدل کړی، ۴۸.۸۹٪ ځواب وېونکو وویل چې دوی اوس د نقاب په ګډون بشپړ حجاب اغوندي، او(۱۹.۸۳٪) وویل چې دوی نور له محرم پرته له کور څخه بهر نه ځي. په عین حال کې،(۲۱.۴۶٪) ځواب وېونکو وویل چې دوی په خپل ورځني ژوند کې هیڅ بدلون نه دی راوستلی، چې دا په ګوته کوي چې یو شمیر ښځې (اقلیت) اغیزمنې شوې ندي او یا د معمول په څېر خپل ژوند ته دوام ورکوي .

لومړی سوال: د امر بالمعروف قانون له معرفي کیدو راهیسې تاسو د خپلې ټولنې د غږو په چلند کې کوم بدلونونه لیدلي دي؟



دوهم سوال: ستاسو د ژوند کوم اړخونه د امر بالمعروف قانون له پلي کېدلو سره اغیزمن



درېم سوال: د امر بالمعروف قانون له پلي کوونکو سره له مخامخ کېدلو څخه د مخنيوي لپاره تاسو خپل ورځني چلند څنګه بدلوی؟



څلورم سوال: ستاسې په ولایت کې د امر بالمعروف قانون د چارواکو لخوا څنګه پلي کېږي؟



د متمرکزو ډلې پیزو بحثونو کلیدي موندنې

۱. په ورځنیو چارو کې بدلونونه او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون له محتصبینو سره له مخامخ کېدلو څخه ډډه کول

د یاد قانون له پلي کیدو راهیسې، په ټول افغانستان کې ښځې په خپل ورځني ژوند کې له سختو خنډونو سره مخ شوي دي. په ټولو ولایتونو (ښاري او کلیوالي سیمې) کې ګډونوالو د تګ راتګ، کارموندنې، پوهنې او عامه ځایونو ته د لاسرسي په اړه سخت محدودیتونه په ګوته کړل. یوې ګډونوالې څرګنده کړه، "په بغلان کې، ښځو پخوا هم حجاب اغوست، خو اوس حتی رنګارنګ جامې هم منع دي. هغوی تاسي اړ کوي چې په حجاب کې حتي د کوچنیو ستونزو له امله له ټکسي ښکته شی" (بغلان، متمرکز ډله ییز بحث). ښځې اوس اړ دي چې بشپړ حجاب یا بورقه واغوندي، ډیری وختونه دستکشې او ماسک هم کاروي، او له کور څخه بهر باید محرم هم ورسره وي. حتی کله چې د دې مقرراتو سره سم عمل کوي، ښځې په مکرر ډول د قانون د پلټونکو (محتصبینو) لخوا ځورول کیږي. په پایله کې، ډیری ښځې خپل تګ راتګ یوازې د اړینو اړتیاوو پوره کولو تر حده محدودوي یا په بشپړ ډول له کور څخه د وتلو نه ډډه کوي ۰

کارونه لکه په غیر رسمي تعلیمي موسسو کې ګډون، د روغتیا پالنې غوښتنه، بازار ته تګ، یا د رسمي اسنادو جوړول اوس ستونزمن یا ناممکن دي. پداسې حال کې چې د ۲۰۲۱ کال له سپټمبر مباشتې راهیسې له شپږم ټولګي څخه پورته زده کړې د انجونو لپاره منع دي، ګډونوالو د غیر رسمي زده کړې ځایونو لکه د پټو ښوونځیو، آنلاین پروګرامونو، او خصوصي ښوونې ته د لاسرسي په برخه کې د زیاتو ستونزو راپور ورکړ. ډیری میرمنو - په ځانګړې توګه هغه چې نارینه سرپرست نلري - خپلې دندې له لاسه ورکړې دي. له کونړ څخه یوې ګډونوالې وویل، "اوس، حتی د بیرنیو روغتیایي اړتیاوو لپاره مور نشو کولای پرته له محرم څخه بهر لاړې شو. داسې ښکاري چې مور په خپلو کورونو کې بندیانې یو ۰

دې محدودیتونو د ښځو او انجونو روانې روغتیا په ژوره توګه اغیزمن کړی. ګډونوالو خپل ژوند له اضطراب/اندیښنې نه ډک او له دوامداره ځارنې لاندې بیان کړ. د بامیان او بادغیس په څیر ولایتونو کې د مخ پټولو سخت قوانین پلي شوي دي - چې حتي مسلکي کسان لکه ډاکټرانې او ښوونکې هم پکښې شاملې دي. په ټولیز ډول، دا قانون نه یوازې د ښځو د تګ راتګ ازادي محدوده کړې، بلکې د با وقاره او خپلواک ژوند لپاره یې د دوی وړتیا هم له منځه وړې.

۲. د تطبیق میتودونه او د هغوی اغیزې

د امربالمعروف قانون پلي کول په پراخه کچه له جبر، پرته له وړاندوینې او تاوتریخوالي ډک عمل ګڼل شوی. هغه ښځې چې ګواکې له قانون څخه سرغړونه کوي د لفظي ځوروني، عامه سپکاوي، فزیکي ناوړه ګټه اخیستنې، بند او مالي جریمو لکه د دندې له لاسه ورکولو یا د معاشونو نه ورکړې سره مخ کیږي. حتی کوچنۍ سرغړونو - لکه د مخ ماسک اغوستل یا د رنګه پوړۍ اغوستل - ته سخته سزا ورکول کېږي. یوې ګډونوالې یادونه وکړه، "دوی یوه دیارلس کلنه انجلۍ پېژني چې د حجاب د نه اغوستلو له امله زنداني شوې" (پکتیا، متمرکز ډله ییز بحث). د قانون په تطبیق/عملي کولو کې نااندولتیا ویره نوره هم زیاتوي، او ډیری میرمنې دې ته هڅوي چې خپله ځان د قانون عملي کولو ته وسپاري یا په خپل چلند کې تغیر راولي.

ګډونوالو یاده کړه چې د قانون تطبیق اکثرا له لفظي "مشورې" یا اخطارونو سره پیل کیږي مګر په چټکۍ سره فزیکي سزا، توقیف، او په ځینو مواردو کې، جبري ورکیدلو تمامیږي. لکه څنګه چې یوې ګډونوالې وویل، "هغوی (محتصبین) لومړی خبرداری ورکوي، بیا یې ګواښوي، او بیا یې وهي. یوه ښځه چې زه یې پیژنم، له نیول کیدو وروسته ورکه شوې ده. نورې ښځې هم هیڅکله بیرته خپل حال ته نه راګرځي" (بامیان، متمرکز ډله ییز بحث).

نارینه خپلوان په مکرر ډول د میرمنو د ناوړه چلند/د قانون په پام کې نه نیولو په بدل کې مسؤل بلل کیږي. ډیری میرمنو راپور ورکړی چې میړه یا وروڼه یې توقیف شوي یا ګواښل شوي دي. د بادغیس یوې ګډونوالې وویل: "حتی زموږ نارینه خپلوان که موږ له حجاب پرته ولیدل، ګواښل کیږي یا زنداني کیږي. موږ په دوامداره توګه تر څارنې لاندې یو." ځینو ګډونوالو د ځان وژنې پېښو او د روانې فشار له امله د شدید صدمو یادوونه هم وکړه. په یو څو قضیو کې، د قانون ښځینه پلي کونکي چې له محتصبینو سره کار کوي، د ښځو او انجونو په مجازاتو کې پر ښکیلتیا تورنې شوې دي، چې دا عمل په ټولنه کې د ښځو په ګډون د خلکو باور نور هم له منځه وړي.

۳. د جوماتونو رول او د نارینه وو اطاعت

جوماتونه د طالبانو د قانون د تطبیق په ستراتیژۍ کې مرکزي رول لوبوي. د جمعې خطبو او اجتماعي غونډو له لارې نارینه وو ته لارښوونه کیږي چې په خپلو کورنیو کې د ښځو څارنه او کنټرول وکړي. دا پیغامونه عموما د حجاب پلي کولو، د ښځو په تګ راتګ باندې بندیز، او د محرم په اړتیا ټینګار کوي. امامان د منځګړو په توګه کار کوي، مخکې لیکل شوي خطبې وړاندې کوي چې د مذهبي مکلفیت تر نامه لاندې د طالبانو تګلارې پیاوړې کوي.

نارینه وو ته په ښکاره توګه اخطار ورکړل شوی چې که چیرې د دوی په کورنیو کې میرمنې نافرماني وکړي نو د ټولنیز شرم څخه نیولې تر زندان پورې سزاګانو سره به مخ شي. دا چلند د ښځو نارینه خپلوان پرته د شخصي باورونو ته په پام سره، د دې قانون په لومړنیو پلي کونکو اړولې دي. لکه څنګه چې یوې ګډونوالې څرګنده کړه، "زموږ نارینه دا قواعد د دې لپاره نه تعقیبوي چې باور پرې لري، بلکې د دې لپاره یې تعقیبوي چې دوی له ټولنیز شرم یا بندي کیدلو څخه ویره لري" (بلخ، متمرکز ډله ییز بحث). په ځینو سیمو کې، د جوماتونو امامان د سیمې د اوسیدونکو لیستونه جوړوي او څارنه کوي چې آیا د کورنۍ ښځې له کور څخه بهر کار کوي یا له کوره بهر پرته له محرم ځي. د ډیرې نارینه وو لپاره اطاعت د مذهبي عقیدې له امله نه بلکه له ویرې او د کورنۍ عزت ساتلو له امله دی.

۴. اطاعت، ویره، او د بنسټیز ملاتړ نشتوالی

له دې قانون څخه د میرمنو اطاعت په پراخه کچه د ویرې - د تاوتریخوالی، د دوی د کورنیو بې عزتۍ، یا د دوی د کار او معاش له لاسه ورکولو له امله دی. پداسې حال کې چې ډیرې برخه اخیستونکو پر تواضع باندې د خپلې عقیدې د یوې برخې په توګه باور څرګند کړ، خو دا یې واضح کړه چې په زور او جبر او د سزا ورکولو له لارې د دې قانون پلي کول له تواضع سره توپیر لري. "موږ اوس هم غواړو کار وکړو، له خپلو کورنیو سره مرسته وکړو. له همدې امله موږ دا قانون مراعت کوو - خو د باور له مخې نه، دا ځکه چې موږ بل انتخاب نه لرو." (بلخ، متمرکز ډله ییز بحث).

د ټولنیز فشار سربیره، میرمنو همداراز د طالبانو په قانوني میکانیزمونو نږدې بشپړه بې باوري څرګنده کړه. د دوی په اند، د شکایاتو سیسټمونه په پراخه کچه د لاسرسي وړ ندي، غیر موثر او خطرناک دي. هغه ښځې چې هڅه کوي د ناوړه ګټه اخیستنې راپور ورکړي اکثرا خپله تورنې پیژندل کېږي او یا نورې سزاګانې ورکول کیږي، چې داسې کړنې په ښځو کې د بې واکۍ یا بې وسۍ احساس پیاوړی کوي. ډیرې برخه اخیستونکو یادونه وکړه چې حتی هغه میرمنې چې تر توقیف او تحقیق وروسته بې ګناه ثابتې شوې دي، د اوږدې مودې لپاره له ټولنیزې بدنامۍ سره مخ دي. له همدې امله ډیرې میرمنې په بشپړ ډول د شکایتونو له ثبتولو څخه ډډه کوي، او وایي چې اوسنی سیسټم نه د ساتنې لپاره دی او نه عادلانه دی.

میتودولوژي:

دا لنډیز د "واوره" نوښت له لارې راټول شوي معلومات وړاندې کوي. د یوې انلاین ټولپوښتنې له لارې چې د څلورو څو انتخابه، ټرلو پوښتنو څخه جوړه شوې وه، په ۳۲[1] له لارې په ۲۵[2] ولایتونو کې دا ټولپوښتنه ترسره شوه. د ځواب (KIIs) ولایتونو کې ۲۷۹۱ ځواب ورکوونکي شکیل کړل. ۴۴۳۲ اضافي ځواب ویونکو سره د کلیدي معلوماتي مرکو ویونکو ډیرې برخه له ۱۸ څخه تر ۳۵ کلونو عمر تر منځ وه. د دې لپاره چې کیفي موندنې په ژوره توګه تحلیل کړو، موږ په ۲۵ ولایتونو کې د "واوره" د ښځو د سولې حلقو غړو سره متمرکز ډله ییز بحثونه هم ترسره کړل، چې ټول ټال ۵۱۴ ښځې پکې شاملې وې.

د "واوره" میتودولوژي د دې لپاره ډیزاین شوې ده چې د ټولو ډیموګرافیک او سیمه ایزو شالیدونو استازیتوب له بیلابیلو برخو څخه د میرمنو شاملول او ګډون یقیني کړي. د دې ټولپوښتنې په پایله کې، د بلخ، بامیان، دایکندي، هرات، جوزجان، کندهار، پکتیا، فراه، فاریاب، بغلان، بادغیس او کابل په ګډون د ۱۲ ولایتونو معلومات د استازولی لپاره د باور کچه ۹۰٪ څخه پورته شوه.

زمونږ په اړه:

"واوره" یو ډیجیټل پلټفورم دی چې په افغانستان کې د ښځو او انجونو غږونه په ریښتیني وخت او د ښلابښلو موضوعاتو په اړه راټولوي. لکه څنګه چې له نوم څخه یې څرګنده ده، "واوره" په پښتو کې د 'اوریدل' معنی لري او د دې لپاره رامینځته شوی چې ډاډ ترلاسه کړي چې د افغان میرمنو د "اوریدلو" پروسې ته د یو اړخیزې پېښې په توګه نه بلکه د پریکړې کولو پروسې د ټولو ملي او نړیوالو بحثونو، پلټفورمونو د یوې برخې په توګه لیدل کیږي.

---

۱ تلیفوني سروې ګاني په لاندې ولایتونو کې ترسره شول: بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، بامیان، دایکندي، فراه، فاریاب، غزني، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، وردک، کندهار، کاپیسا، کنړ، کندز، لوګر، ننګرهار، نیمروز، نورستان، پکتیا، پنجشیر، پروان، سمنګان، سرپل، تخار، غور، خوست، لغمان، پکتیکا

۲ کلیدي مرکي او متمرکز ډله ییز بحثونه په لاندې ولایتونو کې تر سره شول: هرات، پکتیا، بلخ، جوزجان، بامیان، دایکندي، ننګرهار، کندهار، نیمروز، بادغیس، کاپیسا، کابل، غزني، پروان، نورستان، بدخشان، بغلان، فراه، سمنګان، سرپل، کنړ.